# په لوګرولایت کې د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ورځ ولمانځل شوه

دکب ۷ مه: په لوګر کې د پرتمینو مراسمو په ترڅ کې د سرتېرو د ملي ورځې په مناسبت غونډه وشوه او ملي ځواکونه وستایل شول.







په لوګرولایت کې دغه ورځ د ګډو افغان امنیتي سرتېرو، برید ملانو ،افسرانو او قومندانانو سربېره؛ دلوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي، ملي امنیت رییس برید جنرال امیر جان ناصري، امنیه قومندان محمد ابدالي، مرستیال والي تورن جنرال محمد نبي احمدزي، د څلورمې پلې لوأ قومندان تورن جنرال عبدالرازق ساپي، ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، د یادې شورا غړو، د لوګر دولتي ادارو مسؤلینو، قومي مشرانو، د مدني ټولنو استازو ،خبریالانو او عامو خلکو هم برخه اخیستې وه ولمانځل شوه.

یاد مراسم د څلورمې پلې لوا په انګړ کې نیول شوي ؤ، چې په پیل کې دقرانکریم څو مبارک آیتونه تلاوت او بیا دهیواد ملي سرود وغږول شو.

دویناو په لړکې د څلورمې پلې لوأ قومندان تورن جنرال عبدالرازق ساپي د غونډې ګډون والو ته د ښه راغلاست تر څنګ ددغې پرتمینې ورځې په اړه ټولو امنیتي سرتیروته مبارکي وویله. عبدالرازق ساپي دیادې ورځې په لمانځغونډه کې وویل، خوښ یم، چې نن ورځ ولسونو یوځای موږ سره په دغه غونډه کې ګډون وکړ او موږ ته یې روحیه راکړه، چې ولس هم دخپلو امنیتي او دفاعي ځواک ملاتړي دي .

د څلورمې پلې لوأ قومندان دسولې په تړاو په دې ورستیو وختونو کې کومې هڅې رواني دي ویې ویل، چې ان شاالله په هیواد کې به امنیت اوسوله راځي، نو بیا دسولې ورځ به هم په همدې ډول ولمانځو.

ورپسې د لوګر والي الحاج محمد انور خان اسحاقزي وینا وکړه، د افغان امنیتي ځواکونو قرباني او مېړانې وستایلې او افغان ځواکونه یې ددې خاورې اصلي بچیان او اتلان یاد کړل.

والي زیاته کړه: داستاسې د مېړانې او سرښندنو برکتونه دي، چې خپل هیواد مو له دښمن نه ژغورلی او اوس هم په ساتنه کې ګړندۍ هڅې کوئ.

اسحاقزي ملي ځواکونه دغښتلې ارادې اوقوي عزم درلودونکي څښتنان یاد کړل، ویې ویل، چې دوی په پوره میړانې د دښمن په وړاندې جنګیږي او غاښ ماتونکي ځواب دښمن ته ورکوي.

همدارنګه اسحاقزي وویل: دخلکو په ذهنیت کې مثبت بدلون دا ددې څرګندونه کوي، چې ولس نور له جګړو ستړي شوي او په هیواد کې دډاډمنې سولې غوښتونکي دي. اسحاقزي امنیتي ځواکونو ته وویل، چې موږ ستاسې هرې قرباني او مېړانې ته سلام کو او په پوره درناوي ستاسو کړنو ته دقدر په سترګه ګورو.

ده وویل، تاسو یاست چې د خپلې وینې په ورکړه دګران هیواد افغانستان د خاورې او وګړو عزت ساتلی او دغه سرښندنې ستاسې د هیوادنۍ مینې په احساس څرګندویي کوي. په همدې توګه لوګر والي وویل، موږ به وچه ډوډۍ وخورو؛ خو دخپل امنیتي ځواکونو دلاپیاوړتیا لپاره هلو ځلو ته به ګړندیتوب ورکړو. اسحاقزي وسله والو ته په پیغام کې وویل، راشئ د سولې له ملي بهیر سره یوځای شئ ترڅو په ګډه ددې هېواد د آبادۍ او ښېرازۍ لپاره کار وکړو.

د غونډې په بهیر کې د ملي امنیت رییس برید جنرال امیرجان ناصري او امنیه قومندان محمد ابدالي هم خبرې وکړې؛ دوی د افغان ځواکونو سرښندنې او قربانۍ وستایلې او تر څنګ یې د لوګر ولسونو ته ډاډ ورکړ چې هیڅ وخت به دښمن پرې نږدي، څو د لوګروالو سیمې او په ټوله کې لوګر ولایت نا امنه کړي. د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، ولایتي شورا مرستیال ډاکټرعبدالولي وکیل، ددې شورا غړو محمد ناصرغیرت، محمد قسیم خوشیوال، د ښځو چارو رئیسې شیما زرګر هریوو په وار سره خبرې وکړې او ټولو دخپلوویناو په لړکې افغان امنیتي ځواکونو ته ددغې ورځې مبارکي ورکړه او دوی یې ددغې خاورې رښتیني بچیان یاد کړل. همدارنګه وینا والو د دغه ولایت د اوسېدونکو هغه هېوادنۍ مینه هم وستایله چې خپل اولادونه یې له هېواد او خلکو د دفاع په لاره کې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې شامل کړي دي.

د غونډې په پای کې د همدې ورځې په ویاړ ځینو ورزشکارانو؛ ورزشي ننداري هم وړاندې کړې، چې د ګډون والو لخوا په چکچکو بدرګه کیدل.

ورپسې دغونډې ګډون والو ځینو افسرانو، برید ملانو او سربازانو ته ملي بیرغونه ډالۍ، ګلان یې په غاړه ور واچول او ترڅنګ یې د ولایت مقام لخوا په هغو کورنیو نغدي مکافات وویشل، چې د کورنۍ غړي یې د هېواد په دفاع کې له لاسه ورکړي دي.

د یادونې وړ ده، چې په دغه غونډه کې هغه ځواکونه هم وستایل شول، چې په خپلو چارو کې یې سرښندنې او مېړانې له ځانه ښودلي وي.

دامنیتي سرتیرو دورځې په مناسبت څو تنو لوګرمیشتوخپل نظرونه لوګر جریدې خبریال سره په ځانګړو مرکو کې داسې څرګند کړل.

نذیزاندیش یو تن مدني فعال وویل، دځوانانو مسؤلیت د امنیتي ځواکونو په وړاندې دادی، چې دخپلو ملي ځواکونو ترڅنګ ودریږي او ورڅخه پوره ملاتړي وکړي. اندیش زیاته کړه، چې ملي سرتیرو ته باید په وخت خوراکي او نوراړین توکي، چې دوی په سنګرونو کې دامنیت په ساتنه کې بوخت دي، اړونده ادارې دي ورته په وخت رسیدنه وکړي. ده دامنیتي ځواکونو لاسته راوړنې دستایلو وړ وبللې.

همدارنګه داطلاعاتواوفرهنګ رییس محمد شفیق پوپل وویل؛ خوښ یم چې نن دلوګر ولسونو سره یو ځای دامنیتي سرتیرو د ورځې په لمانځغونډه کې ګډون لرم او زموږ ملي امنیتي ځواکونه دګلونو په ګیډیو او ستاینلیکونو باندې ونازول شول. پوپل زیاته کړه، ملي ځواکونه شپه او ورځ دخلکو دساتنې لپاره نه ستړي کیدونکي هلې ځلې کوي او موږ باید د دوی ترڅنګ ودریږو ، څو دوی ته دا روحیه ورکړل شي، چې ولسونه هم زموږ ترشا ولاړ دي.

دولایتي شورا یوتن غړی محمد ناصر غیرت وویل، چې امنیتي ځواکونه ددې خاورې ساتونکي دي، باید دهغوی ستونزو ته په کتو مسؤلین لازیاته پاملرنه وکړي، څو دوی په خپلو چارو کې غښتلي ګامونه واخلي.

د دریمې پلې لوأ یو تن سرتیري وویل، زه ویاړم چې نن ورځ زموږ د سرتیرو ورځ په پرتمینو مراسمو ولمانځل شوه او دملکي خلکو ګډون په دې لمانځغونډه کې دیوالي او وحدت ښکارندوي کوي، چې افغانان یې په خپلو منځو کې لري څرګنده کړه او په هیواد کې دتپل شو جګړو زیږنده دګاونډیو هیوادونو یادونه یې وکړه، چې دوی افغانان په خپلو منځو کې اچولي، خو نن ورځ موږ ګاونډیو هیوادونو ته دا ثابته کړه، چې افغانان ټول سره ورونه دي، دهیواد په ساتنه کې یو بل سره هراز قربانیو ته ولاړ دي .

په همدې توګه یو بل سرتیري وویل، چې زه دخپلې خاورې ساتنه په پوره ایمانداری او اتلولۍ سره کوم، څوچې په بدن کې مې وینه جاري وي، دښمن ته اجازه نه ورکوم، چې زما هیوادوال په وېر کینوي، د دښمن په وړاندې به جنګیږم او سر به له خپلې خاورې قربان کړم.

یو بل قومي مشر ددې ورځې په اړه وویل، دامنیتي سرتیرو هلې ځلې او د دوی لاسته راوړنې دستایلو وړ دي، چې په هر ډګر کې امنیتي ځواکونو له ولس سره پوره همکاري کړې.

ده په ولس غږ وکړ، چې د خپل امنیتي ځواکونو سره ودریږي، څو دهیواد په امنیتي وضعیت کې مثبت بدلون راشي او هیوادوال په ډاډه زړه خپل ژوند ته ادامه ورکړي.

د ویلو ده، چې د کب نهمه د ولسمشر محمد اشرف غني د ځانګړي فرمان له مخې د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو د ملي ورځې په نوم نومولې ده، چې له تیرو دو کالو راهیسې دغه ورځ په ټول هېواد کې لمانځل کېږي.

# شکست قشون سرخ ونقطه عطف برای افغان ها

بیست وشش دلوروزنابودی روس ها ، روزپایان قدرت نمایی قشون سرخ، روزپیروزی حق برباطل وروزگرفتن ثمره مجاهدات ومبارزات مردم غیورکشور؛ دراین روزآخرین عسکرقشون بی رحم ارتش سرخ با روی سیاهی وشرم ازطریق بندرحیرتان ازکشورخارج شدویک صفحه تازه برای افغان ها رقم خورد.

دراثرشهامت ومبارزات دلیرانه مجاهدین، قشون متجاوزگرروس در26 دلوسال 1367 هجری شمسی بعدازنو سال وپنجاه روزظلم ووحشت درخاک مان، مجبوربه ترک این مرزوبوم شدوکشورکه آفتاب درسرزمین آنها غروب نمی کرد با درک شکست وخواری علاوه از مغلوبیت آنان درافغانستان درسیاست خارجی وروابط بین المللی نیز متحمل ناکامی سنگین شدند واین را درک کردند که هیچگاهی به اهداف شوم شان دراین خاک نخواهند رسید.

شوروی سابق با ارتش بی رحم ووحشی اش گوشه گوشه یی خاک مانرااز زمین وهوا آماج گلوله،تانگ ها وطیارات بم افگن قراردادند که درقرا وقصبات هموطنان عزیزمانرا به شهادت رسانیدند وبیش ازدومیلیون افغان ها قربانی این خودخواهی روس ها گردید.

بعدازیک مدت هجوم اشغالگران، آهسته آهسته مردم متدین وغیورکشوردسته دسته کنارهم برای مبارزه متجاوزین صف بندی کردند وپی بردند که باوحدت ویک مشت میتوانیم دشمن را شکست دهیم.

با وجود آنکه اشغالگرکه با هیچ دین وآئین پا بند نبود ، با تجهیزات نظامی مدرن وپیشرفته همان وقت مجهزبودند ، افغان ها با دست خالی وتجهیزات نظامی معمولی اما باشهامت وهدف پاک ومقدس(جهاد ) دربرابرآنان استادگی نمودند تا باالاخر ثمره این مبارزات را چشیدند وپیروزگردیدند.

بعدازشکست ارتش شوروی ونظام کمونیستی؛ متاسفانه وحدت ویکپارچگی مبارزین ومدافعین حقیقی وطن(مجاهدین) پابرجا نماند وهمین بود که بعدازمدتی برای کسب قدرت به جان هم افتیدند وزمینه مداخله ولانه سازی اهداف کشورهای خارجی را درکشورمساعدنمودند.

جنگ های داخلی وبین الحزبی ازمال وجان هموطنان ما قربانی گرفت وکشوررابه ویرانه مبدل نمودند.

هرگذشته وتجربه تلخ تاریخ نقطه عطف برای بهبود یک کشورمحسوب میشود که با درک گذشته وتحلیل وضعیت کنونی درمورد آینده با ید فکرعمیق نمود.

درشرایط فعلی بیش ازپانزده سال میشود که جنگ های تحمیل شده ازهموطنان ما قربانی میگرد ودرهرحالت افغان هامتضررین اصلی آن میباشند وپایان این کشمکش ها وخونریزی ها به اتفاق،وحدت ویکپارچگی صادقانه افغان ها تعلق ووابسته گی دارد. موضوعات مذاکرات صلح وپیشرفت های که تاحدی دراین عرصه صورت گرفته است برای رسیدن به صلح دایمی، سرتاسری،صلح که آبرو ،حیثیت ملی وبین المللی افغان ها ،منافع ملی، ارزش های فرهنگی ودینی درآن نهفته باشد نیازبه تفکرعمیق وهمه جانبه دارد.این مسئولیت ووظیفه ایمانی ووجدانی همه افغان است باالخصوص اشخاص با نفوذ که برای تامین صلح وداشتن یک کشورمرفه وبه دورازجنگ وخونریزی برای به ثمررسیدن نهال صلح تلاش نمایند وهیچگاهی دراین روند شکاراهداف بیگانگان قرارنگیرند.

به امید پیروزی وتامین صلح سرتاسری درکشور !

**نو یسنده : محمد زاهد سلطانی**

**دهیواد دسمسورتیا او ښکلا لپاره نیالګي کینول ثواب او ستاسو د روغتیا او سلامتیا سبب ګرزي؛ راځئ چې په خپلو سیمو کې یو یو نیالګی کینوو، له یوه لوري به مو دنیالګي کینولو فرهنګ ته غښتلتیا ورپه برخه کړي وي او له بل پلوه به د نیالګیو غوڅولو او قطع کولو فرهنګ دهیواد له ګوټ ګوټ څخه له منځه وړي وي.** **(جریدې مدیریت)**